# د ولسي جرګې د اتو تنو نوماندانو نومونه له ورستي نوملړ څخه لرې شول




د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون له لورې یوه خبرې ناسته ترسره شوه چې په کې د ولسي جرګې د اتو تنو نومونه د ولسي جرګې له وروستي نوملړ څخه لرې شول .

دغه خبري ناسته چې د ټاکنيزو شکایتونو کمیسیون له لورې دیکشنبې په ورځ د ۱۳۸۹ د زمري په ۱۶ د سیرینا په هوټل کې جوړه شوې وه د ولسي جرګې د هغو نوماندانو په اړوند چې د نومونو د لیکلو پرمهال یې له خپلې دولتي دندې استعفا نه وه کړې جوړه شوې وه . نو پر همدې بنسټ د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون اته تنه نوماندان په ټاکل شوي وخت کې له خپلې دولتي دندې څخه د استعفا نه کولو په تور د نوماندۍ وړ ونه بلل نو د ټاکنو له خپلواک کمیسیون نه یې وغوښتل چې د نوموړو کسانو نومونه د عامه پوهاوي په موخه خلکو ته اعلان کړي . لرې شوي نوماندان له کابله یو تن ، له کاپیسا یو تن ، له زابله دوه تنه ، له دایکندي یو تن ، له لوګره یو تن ، اود ننګرهار له ولایته دوه تنه نوماندان دي .

د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون غړی او ویاند احمد ضیا رفعت په دغه مطبوعاتی ناسته کې ددې یادونه هم وکړه چې د یو شمیر هغو نوماندانو نومونه چې په خپل وخت له دولتي دندې د استعفا په نه کولو تورن دي تر څېړنو لاندې دي او پایلې به یې ډېر ژر خلکو ته اعلان شي.
نوموړي د خپلو خبرو پر دوام وویل :" د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون له لورې د ولسي جرګې د نوماندانو د لومړي او وروستي نوملړ نه ، هغه نوماندان چې د بیلابیلو لاملونو له وجې یې نومونه لرې شوي شمیر یې ۵۲ تنو ته رسیږي ."

د یادونې وړ ده ، چې د ټاکنیزو سیالیو له پیل راهیسې د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې ۵۲۱ شکایتونه ثبت شوي دي .